سلطان جان کلیوال

۲۰۲۱/۰۹/۱۱

# مشوره غواړمه

که مې د خپل قام په حالت باندې ژړا کومه
ځني ښاغلي، تنګ نظر او یا فاشست بولي ما

که د مزدور او د غریب د حق غوښتنه وکړم
د عدا لت نه نا خبر بیا کمونست بولي ما

که مې د کلي اوطن په غم کښې ځان شریک کړ
د لوړې پوهې به خاوند وی خو، رَسست بولی ما

که د مادی ژوند د جوړښت په اړتیا و غږیدم
د همدی ژوند مزوکی ډوب، ماتریالست بولي ما

که مې د خدایج له درګاه وکړله د خیر غوښتنه
ډیر استادان دلته کی شته چي ایدیالست بولي ما

اوس مشوره راکړئ یارانو کومه لارغوره کړم؟
چې وطندوست، چې مسلمان او انساندوست شمه

د عدالت او د انصاف مورچه مې ماته نه شي
له ځانه مخکې، کلیوال شم افغان دوست شمه.



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید